عبدالغفور لېوال

۲۰۲۶/۰۳/۱۷

# د یوه ملت په حیث څه کړای شو؟

خبره د ملکي شهیدانو د شمېر نه‌ده، حتی د وسله‌وال یا ناوسلوال هم نه‌ده. همدا چې پر افغان خاوره برید کیږي، تیری دی او بنه څرګند تیری دی. همدا چې د یوه انسان پوزه وینې کیږي، بشري جنایت دی.

د پاکیستان پوځي الوتکه چې ډیورند کرغېړني کرښې ته نږدې کیږي، تیری او جنایت له همدې ځایه پیلیږي.

افغانان بې‌ځایه په دې لانجو کې ښکېل دي، چې څوک یې څومره او چېرته وواژه؟ معتاد افغانان خو لا پرېږده، چې د یوې مرغۍ پوښتنه هم باید وشي، چې په افغان خاوره کې وژل کیږي.

له تاریخي او حقوقي پلوه افغانان حتی د هغو پښتنو د وژلو او ځورولو د پوښتنې حق هم لري، چې د ښکېلاک په چاره د افغانستان له خاورې بېل کړای شوي دي.

د افغانستان پر زمکنۍ بشپړتیا تیری سپیناوي ته اړتیا نه‌لري او په یوه حساب دغه تیری ان ځوپنځوس کاله پخوا د داودخان د جمهوریت له زماني راپیل شوی دی.

پر افغانستان پوځي تېرى له نړیوالو اصولو څرګند سرغړاوی دی، خو چېرته دي هغه نړیوال مراجع چې د افغانانو شکایت واوري او عمل وکړي؟

ځان په ځان سودا ده او هر ملت هغومره خپلواک دی، چې څومره یووالی، ملي شعور، پوهه، تکنولوژي، اقتصاد، ساینس، زور او زر لري.

افغانان څه کړای شي؟

اصلي پوښتنه دا ده.

افغانان یې وژلي، پلیو یا سپرو؟ دا مهمه نه‌ده! مهمه دا ده چې څه مو په وس کې دي؟

د دوښمن یوه دسیسه دا ده، چې موږ یې پر بې‌ځایه ناندریو بوخت کړي یو: تا داسې وویل او هغه هسې وویل. ملکي وژل شوی، که پوځي؟

ایا د افغانستان پوځي بنسټونه پردي دي؟

افغانانو ته ډېره کمه شیمه او سپک پاتې دی، نه ښایي دا په خپل‌منځي ناندریو کې خاورې کړو، اصلي خبره باید دا راپورته شي، چې د یوه ملت په حیث څه کړای شو؟
یو ملت چې څرګند تېرى پرې شوی.

جهادیان، سکتېریستان او ضدِملي عناصر روان دي، بیا له پاکیستانه د کابل تخت غواړي. ایا موږ په ټول تاریخ کې هرهغه څوک چې له پاکیستانه د کابل تخت غواړي په یوه خوله غندلي او د وطن تاریخي دوښمنان مو ګڼلي؟ نه! بلکې هرځل مو دوی د خدای د لارې مجاهدین ګڼلي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ايا موږ لا هم «ملي»، «ملت»، «ملتپالني «اصطلاحات او ملي فکر کفر نهګڼو؟ ايا موږ له ملتپالني سره اشتي کړې ده؟

که د تيرو جنايتونو او خيانتونو د توجيه کولو هڅه کوئ، نو پوه شئ، چې نوي جنايتکاران به ستاسو پر پلونو قدم ږدي او د نوي جنايت لپاره به توجيهات له تاسو کاپي کوي.
د پاکيستاني ادارو په مرسته به دوی هم ځانونه په عقيدوي پوښونو کې ونغاړي.

مهېروئ! پاکيستاني مدرسي او منبرونه لا هم د دغه هېواد د استخباراتو په خدمت کې دي.

پاکيستان تر دې مخکې چې پر خاوره يرغل وکړي، اول يې زموږ په عقايدو، فکرونو او باورونو يرغل کړی، پاکيستان له دين څخه د پاکيستاني تعبيرونو په زور زموږ فکرونه او باورونه بمبار کړي دي، ترهرڅه وړاندې بايد ځان له دغه يرغله وژغورو.

ريښتيني ازادي د عقلانيت، فکر او باور ازادي ده، چې لا هم پرې د پاکسيتانيت تور سيوری خپور دی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ